درویش وردک

۰۸ فبروری ۲۰۱۶

## ځوارلسم مجلس(له نفاقه نهی)

شیخ عبدالقادر(رضی الله تعالی عنه) د۵۴۵هجری قمری کال ذی القعدی په اوومه دجمعی په ورځ سهارپه مدرسه کی داسی وفرمایل: ای منافقه، خدای د دځمکی مخ ستا له وجوده پاک کړی. دانفاق اودوه مخی درته څه ګټه لری؟ دعلماو اوصالحینو غیبت کوی، اوپه دی ناوړه عمل سره ددوی غوښی خوری، ولی ته اوستا په څیرپدی ناوړه کړو لاس پوری کوی؟ ډیرژربه دی ژبه اوځان دچینجیو خوراک شی، اوستاسو دبدن ټوټی به ددوی خوراک وګرزی. ځمکه به ستاسو وراسته هډونه وسولوی اوبل ډول به یی کړی.

دهغه چالپاره چی دخدای دصالحو اونیکو بندګانوپروړاندی حسن ظن ونلری اوددوی پروړاندی متواضع نه وی، رستګاری اوژغورنه ممکنه نده. ولی ددوی پروړاندی فروتن نه یی، پداسی حال کی چی دوی دینی فرامانروایان دی، اوته ددوی په پرتله یوناقابله موجود یی. متعال خدای دحل اوعقد چاری دوی ته سپارلی. ددوی دوجود په برکت باران اوری،اوله ځمکی ګیاه راپورته کیږی. ټول خلک ددوی ترلاس لاندی دی اوددوی دغره پشان استواره دی،داسی چی دستونزواومصیبتونو بادونه هغه نشی لړزوالای.

هیڅ څواک قادر ندی چی دوی دتوحید اورضا له ځایه وښوروی. هغه څه چی دځان لپاره یی غواړی نورروته یی هم غواړی.

خدای ته راوګرزی، توبه وکړی اودخپلو تقصیراتو عذرالهی اقدس ذات ته وړاندی کړی. تاسو څه شی په لاس کی لری؟ که درست سوچ ووهی نووبه ګوری چی دهغه څه نه چی فکرییی کوی ،بل څه یاست. دحق دحضورادب ترلاسه کړی، پداسی ډول چی ستاسو مخکنیو ترلاسه کړل. تاسو دخدای دمردانوپروړاندی دمخنثو(امرد) په څیریاست چی دنفس اوشهوت دفرمان اطاعت موپرهربل څه غوره کړی.

شجاعت اوزړورتوب دخدای داوامرو په ترسره کولوکی دی. ددانشمندانواوحکماو خبری سپکی مه شمیری، ددی بزرګانو ویناوی ستاسودرنځونودوا اودالهی وحی ثمره دی، پدی معنی کله چی اوس دپیغمبری دوره پای ته رسیدلی اوژوندی پیغمبردځمکی پرمخ شتون نلری، علماء دانبیاو ځای ناستی دی، که موله دوی په صادقانه توګه پیروی وکړه، داسی ده لکه دانبیاو څخه موپیروی کړی وی. اوهرکله موکه عامل علما سره وکتل نودا په حکم کی دانبیاو دیداردی. دعاملو علماو سره ناسته وکړی، ځکه ددوی په مصاحبت کی برکت شتون لری. اما دغیرعامل علماودناستی څخه په کلکه پرهیزوکړی، ځکه دداسی علماوصحبت شومی اوبدمرغی راوړی.

هرکله که له چاسره چی به علم اوتقوی کی ترتا لوړدی، مصاحبت درلود، داړه اوسه چی دفیض اوبرکت خاوند به شی. اوهرکه که له چاسره چی په سن ترتا مشرولی علم اوتقوی نلری، کښیناستی، پوه شه پرته له بدمرغی اوپښیمانی به دنورڅه لاس ته درنشی.

په ټولو کړوکی دخدای رضا په نظرکی ونیسه. دخدای درضا پروړاندی دخلکو رضا په هیڅ وشمیره، پرته له خدایه دپردولپاره عمل کفردی. اودخلکو دخوښی لپاره دعمل ترک کول ریا اونفاق دی. هرڅوک که په دی چارونه وی پوه، اوپرته له دی یی عمل وکړپه هوی اوهوس ککړشوی. ډیرژربه مرگ راشی اوهوسونه اوآرزوگانی به پری کړی. حیرانی ده! وای پرتا! دخدای عزّوجلّ خواته راوگزه، اوله ده پرته هرڅه له زړه وباسه. رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (صِلُوا الَّذِیْ بَیْنَکُمْ وَبَیْنَ رَبِّکُم تُسْعَدُوا)-«په هغه څه چی ستاسو اوستاسو دخدای ترمنځ دی،لاس ټینګ کړی اونیکمرغه اوسی».

(ای دخدای بنده) که دځان سره دشتمن اوفقیرترمنځ توپیرقایل شوی، پوه شه چی په اشتباه کی یی اوفلاح اورستګاری ته نه یی رسیدلی. صابره اوشکیبا فقیران محترم وګڼه اوددوی ددیداراومجالست څخه ګټه پورته کړه، رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (اَلْفُقَرَاءُ الصُبَّرُ جُلَسَاءُ الرَّحْمَنِ یَوْمُ)-«صابره اوشکیبا درویشان دقیامت په ورځ درحمن خدای سره همناستی دی». نن په باطن اوزړه سره اوسبا په کالبد اوبدن سره دخدای همناستی دی.

دوی هغه کسان دی چی ددنیا مِهریی له زړوایستلی، اوفقریی دصبوری اوشتمنی په نهایت کی غوره کړی.هرکله که یوممن دی حال ته ورسید آخرت ځان دده لپاره نامزدکوی اوځان ورته سپاری. اوکله چی یی دامرحله په بری ترسره کړه ،له هغی هم تیریږی اوپرته دلقاءالله څخه نورڅه نه غواړی. څرنګه کولای شی چی له پیداکوونکی څخه تیرشی اوزړه په بنده پوری وتړی؟ خپل ټول طاعات اوعبادات حق ته سپاری، اودصدق اوریښتینوالی په وزرونو دمولا خواته الوزی. له قفسه راوزی اودوجود په پیداکوونکی پوری ونښلی، درفیق اعلا غوښتنه کوی، هغه چی اول دی اوآخر،ظاهردی اوباطن. دحق په برجه کی راکوزیږی،هغلته چی حق سبحانه وتعالی دهغی په هکله فرمایی: (وَاِنَّهُمْ عِنْدِنا لَمِنَ الْمُصْطَفَیْنَ الْاَخْیَارِ)-«دوی دمونږپروړاندی غوره شوی نیکان دی». ددوی زړونه له مونږسره دی، معانی اواسراریی له مونږسره دی، اوټول هم یی زمونږسره دی، په دنیا اوآخرت کی دوی زمونږپروړاندی غوره شوی خلک دی.

هرکله که دغه مراحل کوم قوم ته حاصل شول، دنیا اوآخرت به ورته بی ګټی څرګند نشی. دځمکی اوآسمانونوټول اسراربه ددوی په زړونو کی راتاوشی. اودخدای دقدرت دنظرښی به هغه موجود اودغیرخدای له نظره به هغه فانی بولی. که له دنیوی روزی څخه ورته څه نصیب وی، نودهغی څخه به دبشری حمل په حالت ګټه پورته کړی، ځکه هرانسان اړدی چی انسانی غرایزپه شرعی معقولو لاروارضاءکړی. خپل مقسوم قسمتونه دخدای غوښتنی ته په تسلیمیدوسره لاس ته راوړی. اوهغه څه چی یی برخه وی، دشرعی حقوقو په رعایت اوزهدسره غوره کوی، نه صرفا دنفسانی شهوتونو دارضاء لپاره. په ټولو حالاتوکی دشرعی ټول ظاهری احکام ورسره خوندی دی، هیڅ ډول بخل اوحسادت دخلکو پروړاندی نلری، دخدای دقرب ترڅنګ ټول مخلوقات اوموجودات ورته دذری په څیر ارزښت نلری.

ترڅوچی دنیاته علاقمند یی، دآخرت وصلت درته ممکن ندی. اوترکومه چی دآخرت سره یی نودمولا سره اتصال درته مشکل دی. پس ریښتینی عامل اوسه اوله تجاهله تیښته وکړه، له هغوکسانوڅخه مه اوسه چی دخپلوناوړه کړوپه وجه دخدای دګمراهی شامل شوی.

حق ته درسیدوله وسایلوڅخه یوهم له فقراو اودرویشانو سره مجالست دی،اودنورو لاس نیوی. آیا پوهیږی چی انفاق اوصدقه له خدای جلّ واعلی سره معامله ده، هغه خدای چی کریم اوغنی دی؟ آیا هغه څوک چی له کریم اوغنی سره

معامله کوی دکوم زیان سره به مخ شی؟؟ ته دخدای په لارکی ذره انفاق کړه اوپه مقابل کی غرترلاسه کړه، دخدای لپاره یوڅاڅکی وبښه اوپه بدله کی یی دریاب ترلاسه کړه، هغه داسی خدای دی چی په دنیا اوآخرت کی به اجراوپاداش ورکوی..

(ای قومه) هرکله که دله خدای سره صادقانه معامله وکړه، کښت اوزراعت به موله برکته ډک، اوویالی به موبه له اوبوډکی اوونی به موله میوو اوپانوډکی شی.

امرپه معروف اونهی له منکره پرځای کړی، اوپدی توگه دخدای ددین مرسته وکړی. صادق هغه څوک دی چی صداقت یی پایښت ولری اوهمیشنی وی، هم په ظاهر اوهم په باطن کی، په خوښی اوناخوښی اوکړاونوکی.

خپلی اړتیاوی له خدایه وغواړی نه له بله، اوکه ناچاره وی چی خلکو ته رجوع وکړی، نوپه ظاهراوباطن کی خدای په نظرکی وساتی، که یی ستاسو حاجت ترسره کړاویانه، ټول له خدایه وگنی، ریښتینی معطی اومانع یوازی دحق ذات دی. دراستانوقوم دروزی اندیښنی له زړه ایستلی، ځکه پوهیږی چی روزی مقدره ده، اوپه ټاکلی وخت کی به راشی. نوځکه یی بیهوده طلبی پری ایښی اویوازی په خدای پوری متوسل شوی. دحق دقرب په وجه له ټولو اشیاو څخه یی بی نیازی اواستغناء څرگنده کړی. هرکله که دی حال ته ورسیدل،نودنورو بندگانو قبله اوآمال به وگرزی. اودوی به دباطن اورضا په لاسونورهبری اولاس نیوی وکړی. یوه له دی بزرگانو فرمایلی: دخدای ریښتینی بندگان هغه کسان دی چی بندگی یی یوازی دخدای درضا لپاره ده، نه دنیا غواړی اونه دآخرت په بندودی. له خدایه یوازی خدای غواړی.

ای لویه خدایه ! خپل ټول بندگان دخپل رحمت دروازی ته راهنمایی کړه، اودازمونږ ابدی خواست اوغوښتنه ده. ولی قدرت اواراده ستا په لاس کی ده.

عزّوجلّ خدای هرهغه څه چی دبندگانوپه صلاح وی ترسره کوی، هرکله که زړه په صدق اوصفا روښانه شو، دالهی رحمت اوعنایت څخه به برخورداره شی. یوه له بزرگانوڅخه داسی فرمایلی: څوک به  له صدیقینو اوریښتینیو خلکوپرته  نیکی کړنی دکمال حدته ورسوی اودگناهونو له ترسره کولو څخه لیری اوسی؟ دحق دلاری صادقان دکبیره اوصغیره گناهونوڅخه لیری دی، دشهواتوڅخه یی مخ اړولی اوآن تردی چی له مباحوڅخه هم لیروالی کوی، یوازی مطلق حلال غواړی. صدیق شپه اوورځ دخدای په یاد دی اودخپل وخت ډیره برخه په عبادت کی تیروی. له معمولی عاداتوڅخه راگرزی، اوپه پایله کی ( دخدای په اِذن) په خرق عاداتو اوباطنی تصرفاتوته لاس رسی پیداکوی. له ځایه چی گومان یی نه کیږی ورته پاکه روزی راځی اوپه استفاده یی مأمورکیږی. درونی اړتیاوی یی کمیږی، اوټول شیان ورته په نظرکی صفا اوښکلی ښکاری. دخپلوغوښتنو چی ونه منل شی اوخپلوهیلوچی ترسره نشی، صابره دی. دهغوغوښتنو چی ردځواب واوری، خوله په شکوی اوشکایت نه پرانیزی، اوپه خپلواعمالولانورخلوص ښکاره کوی، همدارنگه که داسی مردود شی چی گویا مومن اوموحد ندی، بیاهم شکیبا اوصابره دی اوپوهیږی چی  دټولو دردونو دوا صبراوبردباری، دزړه صفا اودقرب وسیله هماغه صبرپرناکامیو دی، ددی په پایله کی دخدای خیراوبرکت ورته راتوئیږی. پدی حال کی دی چی ریښتینی مؤ من له منافقه پیژندل کیږی. مخلص له ریاکاره، زړور له ډارنه، ثابت اوپایدارله ناپایداره، صابر له عجوله، محقق له باطله، صادق له دروغجنه، دوست له دښمنه اوپیرو له بدعت گذاره بیلوی.

دبزرگانوله جملی نه دیوه بل وینا  واوره: دهغه کس په شان اوسه چی ددوا پرتریخوالی صبرکوی، دبلادلیری کیدو په تمه. ټولی بلاوی اوبیماری پرخلکو دتکیی اوله دوی څخه دگټی اوزیان له تصوره راپیداکیږی. اوټول داروگان دخلکو له خواسوداوزیان ته په نه پاملرنه اوثبات دخدای دمقدراتوپروړاندی، کی پراته دی.

پرخلکولویی اوریاست کول مه غواړه، دخدای پروړاندی خپل زړه له مادی ککړتیا پاک کړی، هرکله که داچاری درته لاس ته راغلی، هغه مقام ته به ورسیږی چی انبیاء اوشهداء اوصلحا هلته ځای ولری، اوکه په دی حال پرمخ ولاړی، نودمقام عظمت اوبزرگی ته به ورسیږی. داعمالوسوداوزیان درته رسیږی، هغه څه چی درته شاید اوباید وی اعطاء کیږی. محروم هغه کس دی چی ددی وینا پراوریدو اوایمان درلودلو څخه بی برخی وی.
ای په ظاهری ژوندانه بوختو خلکو، ددنیا شتمنی زما سره ده، له ماسره ډیر گټی دی، اودآخرت کالی هم زماسره دی. زه دایمان منادی اودآخرت دکالیو څښتن یم. هرڅوک چی دهرڅه وړوی، حق یی اداء کیږی. دآخرت له متاعه په یوازی توگه گټه نه پورته کوم، ځکه کریمان یی هیڅکله یوازی نه خوری. هرچاچی دخدای به بزرگواری اطلاعه حاصله کړه، نووبه گوری چی دخدای سره بخل نشته. هرچاچی خدای وپیژانده ، پرته له خدایه به ورته بی ارزښته شی. بخل دنفس دهواڅخه دی، اودعارف نفس دنورو نفسونوپه پرتله دمړی په شان وی.دعارف نفس مطمئنه دالهی ښتی په تمه اودخدای له عقوبته ترسان اولرزان وی.
ای لویه خدایه! هغه څه چی دی دپاکومردانوروزی گرزولی، مونږته هم راپه نصیب کړی. آمین.
**«وآتنا فی الدنیا حسنه وفی الآخره حسنه وقنا عذاب النار».**